# د بې اسناده افغان کډوالو راستنېدنه

اونیز راپور
۲۶ جنوري - ۰۱ فبروري ۲۰۲۰



یو راستنېدونکی ماشوم د کندهار عبوري کمپ (ترانزیت) کې مرسته ترلا سه کوی .

## اړین ټکي

د روان ۲۰۲۰ کال له پیله له ایران او پاکستان څخه تر دا مهاله ټوله راستنېدنه– ۲۹،۷۴۴وګړي

له ایران څخه ټوله راستنېدنه ۲۹،۰۶۵ وګړي

له پاکستان څخه ټوله راستنېدنه ۶۷۹ وګړي

له ایران څخه ۶،۱۵۰ بې اسناده افغان کډوال راستانه شوي چې ددې جملې څخه ۹٪ ( ۵۸۴ وګړو) سره مرسته شوې ده.

له پاکستان څخه ۱۵۹ بې اسناده افغان کډوال راستانه شوي چې د دې جملې څخه ۹۴٪ (۱۵۰وګړو) سره یې مرسته ترسره شوې.

## د ایران څخه راستنېدنه

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۶،۱۵۰ بې اسناده افغان کډوال د میلک (نیمروز) او هرات (اسلام قلعه) پولو له لارې د ۲۶جنوري نه تر ۱ فبروري پورې هېواد ته په خپله خوښه راستانه او یا هم راشړل(ویستل) شوي دي، چې د تېرې اونۍ (۷،۳۶۵) ارقامو په پرتله ۱۶٪ کموالی ښيي. ۲،۹۰۲ وګړي په خپله خوښه او ۳،۲۴۸ شړل(ویستل) شوی دي. د ۱ جنوري۲۰۲۰ راهیسې ، له ایران څخه د بې اسناده راستنېدونکو کډوالو ټوله شمیره ۲۹،۰۶۵ وګړو ته رسیږي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM ) ۵۸۴ (۹٪) بې اسناده افغانانو سره د رارسیدو وروسته د ترانزیت مراکزو له لارې بشري مرستې ترسره کړي دی، چې پدې کې ۶۸ بې سرپرسته کډوال ماشومان، ۳۹ صحي قضیې، ۲۹ تنها(بې کسه) والدینو فامیلونو غړی، ۴ فزیکي معلولیت لرونکي، ۱۲ تنها (بې کسه) ډیر عمر لرونکي، ۲ تنها (بې سرپرسته) ښځینه، ۱۵۰ شړل (ویستل شوي) شوی کورنبو غړي ، ۲۷۰ بې وزله کورنبو غړي او ۱۰ په مخدره مواده روږدي وګړي شامل دي.

### د بې اسناده راستنېدونکو سره د IOM ملاتړ

**خوندیتوب:** د خوندیتوب برخې ۱۱۷ قضیو ارزونه په تخار،غور ،هرات، فاریاب ، کندز، نیمروز ، کابل او سرپل ولایتونو کې بشپړه شوي، چې پدې ارزونه کې ۳۶ ځانګړې قضیې، ۱۳۰ بې وزله کورنۍ ، ۳۴ بې سرپرسته کډوال ماشومان، ۱۶ ښځینه د کور سرپرستې کورنۍ ، ۵ شړل شوي کورنۍ، ۲ تنها (بې کسه) ښځینه ، ۴ زاړه (مسن) په خطر کې او ۷ صحي قضیې شاملې دي.

**د کډوالو روغتیا:**

په ټولیز ډول ۲،۰۶۹ بې اسناده افغان کډوال د آی او ایم ترانزیت مراکزو کې د نري رنځ د تشخیص لپاره معاینه شوي وچې ۲۵۸ وګړو ته لمرنۍ روغتیایي سلا مشورې ورکړل شوي. د ټولو معاینه شوو وګړو له جملې څخه ۲۵ وګړي چې په نري رنځ اخته(ګومان کیږي) قضیې موندل شوي او داخلي تشخیص/ درملنې لپاره اړونده صحي مراکزو ته راجع شوي.

**وضعیت ته کتنه:** د فبروري لمړی نیټې پورې، د کډوالۍ نړیوال سازمان( IOM )د پولو له لارې د بیرته راستنېدنې پروګرام ته په ۲۰۱۹م کال کې مالي مرسته د برطانیې شاهي دولت، هالنډ، سویس ، دناروې عدلې او بهرنبو چارو وزارتونو ، کاناډا ، چک جمهوریت او (CERF )څخه ترلاسه کړې او نوموړې مرسته به ۲۰۲۰ م کال ته دوام ومومي.

همدانګه اضافه بسپنه /مالي مرسته د ECHO او هالنډ هېواد څخه د خوندیتوب پروګرام او نړیوال وجهي صندوق ، د برتانیې هېواد پرمختیایي ځانګې (DFID) او (CERF) څخه د مهاجرت روغتیایي پروګرام لپاره ترلاسه شوې ده.

دکډوالۍ نړیوال سازمان په ۲۰۲۰ کال کې د ۱۵ میلیونه ډالرو نوې بسپنې په لټه کې دی تر څو وکولاي شي د پولو له لارې بشري مرستو او فعالیتونو ته دوام ورکړي.


مور سره اړیکه ونیسئ

IOM Kabul

iomkabul@iom.int facebook.com/iomafghanistan

http://afghanistan.iom.int twitter.com/iomafghanistan

## د پاکستان څخه راستنېدنه

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۱۵۴ بې اسناده افغان کډوال په خپله خوښه او ۵ شړل شوي وګړي د پاکستان څخه له ۲۶ جنورۍ نه تر ۱ فبروري ۲۰۲۰ پورې بیرته خپل هیوادا ته راستانه شوي دي، چې دتېرې اونۍ ( ۱۲۳) ارقامو په پرتله ٪۲۹سلنه زیاتوالي ښیې ،همدرانګه د ژمي راتګ او د کوچیانو او چمن ترمنځ د واورې د ورښت له امله د لوی لارو بندیدل پدې معنی دي چې د پاکستان څخه راستنېدنه به اوس تر نوی هجري لمریز کال ( د مارچ تر ورستېو )پورې ټیټه پاتې وي.

د روان ۲۰۲۰م کال (۱ جنوري ) راهیسې ، له پاکستان څخه ټوله راستنېدنه ۶۷۹ ته رسیږي. د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM ) په تېره اونۍ کې له پاکستان څخه ۱۵۰ (٪۹۴) راستنېدونکو کډوالو سره د را رسیدو وروسته بشري مرسته ترسره کړې ده .

### په ۲۰۲۰ کال کی د بی اسناده راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نیټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعی راستنیدنه |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۱-۴ جنوری ۲۰۲۰ | ۷۵۹ | ۸۸۱ | ۷۶۸ | ۱،۶۳۹ | ۴،۰۴۷ | ۴۶ | ۴۶ | ۶۷ | ۰ | ۱۵۹ | ۴،۲۰۶ |
| ۵-۱۱ جنوری ۲۰۲۰ | ۱،۸۶۷ | ۱،۳۰۹ | ۱،۱۸۲ | ۲،۲۸۳ | ۶،۶۴۱ | ۲۹ | ۰ | ۱۱۹ | ۰ | ۱۴۸ | ۶،۷۸۹ |
| ۱۲-۱۸ جنوری ۲۰۲۰ | ۹۰۰ | ۶۶۹ | ۱۰،۱۳ | ۲۲۸۰ | ۴،۸۶۲ | ۶۶ | ۹ | ۶۱ | ۰ | ۱۳۶ | ۴،۹۹۸ |
| ۱۹-۲۵ جنوري ۲۰۲۰ | ۱،۹۸۱ | ۸۴۹ | ۱،۶۹۷ | ۲،۸۳۸ | ۷،۳۶۵ | ۳۷ | ۰ | ۸۶ | ۰ | ۱۲۳ | ۷،۴۸۸ |
| ۲۶ جنوری - ۱ فبروری ۲۰ | ۱،۵۹۴ | ۱،۱۷۶ | ۱،۳۰۸ | ۲،۰۷۲ | ۶،۱۵۰ | ۴۲ | ۵ | ۱۱۲ | ۰ | ۱۵۹ | ۶،۳۰۹ |
| مجموعه | ۷،۱۰۱ | ۴،۸۸۴ | ۵،۹۶۸ | ۱۱،۱۱۲ | ۲۹،۰۶۵ | ۲۲۰ | ۱۴ | ۴۴۵ | ۰ | ۶۷۹ | ۲۹،۷۴۴ |

### په ۲۰۲۰ کال کی د مرسته شویو راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نیټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعی مرسته |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۱-۴ جنوری ۲۰۲۰ | ۱۴ | ۸۵ | ۰ | ۹۰ | ۱۸۹ | ۴۶ | ۰ | ۶۷ | ۰ | ۱۱۳ | ۳۰۲ |
| ۱-۷ جنوری ۲۰۲۰ | ۴۰ | ۲۳۶ | ۶ | ۲۰۵ | ۴۸۷ | ۲۹ | ۰ | ۹۵ | ۰ | ۱۲۴ | ۶۱۱ |
| ۱۲-۱۸ جنوری ۲۰۲۰ | ۴ | ۱۸۹ | ۰ | ۲۴۵ | ۴۳۸ | ۶۶ | ۸ | ۵۴ | ۰ | ۱۲۸ | ۵۶۶ |
| ۱۹-۲۵ جنوری ۲۰۲۰ | ۶۱ | ۴۹۱ | ۱۷ | ۳۸۷ | ۹۵۶ | ۳۷ | ۰ | ۸۶ | ۰ | ۱۲۳ | ۱،۰۷۹ |
| ۲۶ جنوری - ۱ فبروری ۲۰ | ۶۲ | ۳۰۱ | ۱۱ | ۲۱۰ | ۵۸۴ | ۴۲ | ۵ | ۱۰۳ | ۰ | ۱۵۰ | ۷۳۴ |
| مجموعه | ۱۸۱ | ۱،۳۰۲ | ۳۴ | ۱،۱۳۷ | ۲،۶۵۴ | ۲۲۰ | ۱۳ | ۴۰۵ | ۰ | ۶۳۸ | ۳،۲۹۲ |

### له ایران او پاکستان څخه د بې اسناده افغانانو راستنېدنه - ۲۰۲۰اونېز بهیر




په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له ټولو لاندېنیو بسپنه ورکونکو ،تمویلونکو نه مننه او قدرداني څرګندوي. د نوموړو تمویلونکو ،مالي ملاتړو په مرسته د کډوالۍ نړیوال سازمان وتوانید چې په ۲۰۲۰ کال کې ۳،۲۹۲ بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته ترسره کړي.

in coordination with

د انګلستان هېواد نړیواله پرمختیایې ځانګه، هالېنډ، چک جمهوریت،سویس، کاناډا، ناروې، ایکو (د اروپایې اتحادیې بشری مرستو څانګه) ،دامریکا متحده ایالات، د بیړنیو کمکونو وجهي صندوق او د نری رنځ، ایدز او ملاریا نړیوال وجهي صندوق